تحریمِ نکاح الشِّغار

یعنی

د بدلۍ د نکاح حُرمت

مؤلف

ابو محمد امین اللہ البشاوری

حفظہ اللہ تعالیٰ

مکتبۂ محمدیہ

بیرون کنج گیټ منګل مارکیټ پیښور

0301-8828402

تحریم نکاح الشغار

د بدل دَ نکاح حرمت

تالیف

الشیخ ابو محمد امین الله البشاوری

ناشر

مکتبه محمدیه

بیرون گنج گیټ منګل مارکیټ پیښور

حقوق الطبع محفوظة

دَ کتاب نوم

تحریم نکاح الشغار

یعنی دَ بدل دَ نکاح حراموالے

مؤلف

ابو محمد امین الله البشاوری

سنه : صفر المظفر ۱٤/۳۰ هـ

ناشر

(۱) مکتبه محمدیه

بیرون ګنج ګیټ منګل مارکیټ پیښور

(۲) مکتبه محمدیه

محله جنګی قصه خوانی پیښور

ابو حذیفه ولی الله 0301 8828402

ابو سلمان حضرت محمد 0302 5953513

ابو زهیر سیف الله 0307 5924001

بسم اللّٰہ الرحمن الرحیم

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ، نَحْمَدُہٗ وَنَسْتَعِیْنُہٗ وَنَسْتَغْفِرُہٗ وَنَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنْ شُرُوْرِ اَنْفُسِنَا وَمِنْ سَیِّاٰتِ اَعْمَالِنَا مِنْ یَّھْدِہِ اللّٰہُ فَلَامُضِلَّ لَہٗ وَمَنْ یُّضْلِلْ فَلَاھَادِیَ لَہٗ وَاَشْھَدُ اَنْ لَّااِلٰہَ اِلَّااللّٰہُ وَاَشْھَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُہٗ وَرَسُوْلُہٗ ط

اَمَّابَعْدُ :د شعبان یوم الاثنین پہ دیارلسم تاریخ (۱٤۱۲ ھ) کښې دا رساله په درخواست د بعضو ملګرو لکه کاتب محراب الدین، کاتب حضرت محمد وغیره نورو دوستانو اولیکلے شوه۔ پس دا یو څو پاڼے ستاسو په مخکښں وړاندے کولے شی، هر کتونکی لره ئے په غورسره او انصاف سره کتل پکار دی، ځکه :

وَعَیْنُ الرِّضٰی عَنْ کُلِّ عَیْبٍ کَلِیْلَۃٌ   وَلٰکِنَّ عَیْنَ السُّخْطِ تُبْدِی الْمَسَاوِیَا

او دا رساله په یو څو مُهمو مسئلو لیکلے کیږی چه په هغے کښں زمونږه اکثره پښتانهٔ رونړه د ناپوهئ په وجه واقع کیږی او یا د بعضِ جاهلانو مفتیانو د فتوے په وجه چه هغه خپله فتوے د خپل ځانه ایجادَوِی۔ او د اللہ تعالیٰ او دهغهٔ د نبی ﷺ د اقوالو رعایت پکښں نکوی ۔نودے د

پاره چه د دے گناه نه زۀ او زما ټول مسلمانان رونړه بچ شی، دا رساله ما د حق د اشاعت په نظر لیکل شروع کړل ۔ په اِبتداء کښې مونږ مختصر اقوال د علماؤ ذکر کوؤ د بصیرت د پاره۔ او دے د پاره چه دا ښکاره شی چه زمونږ دا مسئلے د قرآن او سنت او د ټولو حق پرستو علماؤ د قول مطابق دی۔

امام ابوحنیفهؒ فرمایلی دی :

((اِذَا صَحَّ الْحَدِیْثُ فَهُوَ مَذْهَبِیْ))۔ کله چه حدیث صحیح تاسو ته ثابت شو نو بس په هغے عمل کوئ ځکه دغه زما مذهب اولاره ده۔

دا قول "رَدُّ المحتار " چه په شامی مشهور دے ذکر کړے دے، اُوگوره (۱/ ٤٦) دا رنګه "رسم المفتی مجموعة الرسائل ص (۱، ٤)۔ اِیقاظ همم اولی الابصار ص (٦٢)۔ فتاوی دارالعلوم دیوبند" (۱/ ٥٢)۔

او دارنګه شامی په مذکوره صفحه کښې وئیلی دی : ((قال ابن الشحنة : اذا صح الحدیث ویکون علی خلاف المذهب عُمِل بالحدیث ویکون ذلك مذهبه))۔

(کله چه حدیث صحیح ثابت شی او مذهب حنفی نه

خلاف وی نو په حدیث به عمل کولے شی، او دغه حدیث به د امام ابوحنیفهؒ مذهب وی) ځکه هغهٔ دغه وصیت کړے دے۔

نوځوك چه د امام ابوحنیفهؒ په وصیت عمل اُوکړی هغه د امام صاحب تابعدار دے۔ اُوګوره "عقد الجید" د شاه ولی الله۔ صفحه (٥٢)۔ "فتاویٰ دارالعلوم دیوبند"۔ صفحه (٥٢):

«قال ابوحنیفهؒ : لایحل لاحد ان یاخذ بقولنا مالم یعلم من این اخذ ناه وفی روایة حرامٌ علیٰ من لم یعرف دلیلِیْ ان یُفْتِیَ بکلامی، زاد فی روایةٍ: فاننا بشر نقول القول الیوم ونرجعُ عنه غداً» .

اوګوره الانتقاء فی فضائل الثلاثُة الفقهاء لابن عبد البر ص ١٤٥ اعلام الموقعین جلد ٢ حاشیه بحرالرائق جلد ٦ ص ٢٩٣ رسم المفتی ص ٢٩ ص ٣٢. میزان للشعرانی جلد ١ ص ٥٥ صفة الصلوٰة للمحدث الالبانی (١٣، ١٤، ١٥).

اَمام ابوحنیفهؒ وئیلی دی : (جائز نهٔ دی یو کس لپاره چه عمل اوکړی په قول زمونږ تردے چه زمونږ دلیل ئے نهٔ وی معلوم کړے۔ او دویم ځائے کښ ئے وئیلی دی چه حرام دی

په هغه چا چه نهٔ ئے وی پیژندلے دلیل ځما چه فتوٰی ورکړی په خبرو ځما۔ او بل ځائے کښ ئے لیکلی دی چه امام ابوحنیفهؒ وائی چه مونږه بندگان یُو، نن یو شانتے وایو او صباد هغے نه رجوع کوو۔

«وقال ابوحنیفة رضی اللّٰه عنه اذا قلتُ قولاً یخالف کتاب اللّٰه وخبر الرسول صَلّی اللّٰهُ علیه وَسّلم وقول الصحابة فاترکوا قولی»

عقد الجید للشاه ولی شاه ولی الله ص (٥٣) والفلانی فی الایقاظ ص (٥٠).

امام ابو حنیفه رضی اللّٰه عنه وائی چه زه یو قول وایم او دغه قول مخالف وی د کتاب اللّٰه او د حدیث رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم او یا د قول د صحابی نه، نو ځما قول پریدئ!۔ دا رنگه د هغه نُور اقوال هم شته لیکن د اختصار د وجے نه پاتے شو۔ دغه حواله جات مذکوره مطالعه کړه۔

امام مالکؒ هم ډیر اقوال کړی دی، دے باره کښ ئے یو دا فرمایلی دی: «لیس احد بعد النبی صَلّی اللّٰه علیه وسلم الا ویؤخذ من قوله ویترك الاالنبی صلّی اللّٰه علیه وسلم»۔

(هیڅ یو کس نشته پس د نبی صلی اللّٰه علیه وسلم نه مگر بعض وینا ئے

اخستلے شی او بعضِ پریخودلے شی مګر د نبی ﷺ تہولے خبرے اخستلے شی)۔

د امام شافعیؒ قول :

«اجمع المسلون علیٰ ان من استبان له سنة عن رسول الله صلّی اللّٰه علیه وسلم لم یحل له ان یدعها لقول احدٍ» -

ابن قیم فی اعلام الموقعین ۲/۳٦۱ والفلانی فی ایقاظ همم، ص (۵۸).

ترجمه : د مسلمانانو په دے خبره اتفاق دے چه چاته د نبی ﷺ سنت معلوم شو نو حلال ندی هغهٔ لره چه پریږدی دا سنت د وجے د قول د یو کس نه۔

د امام احمد بن حنبلؒ قول :

«لا تقلّدنی ولا تقلد مالکاً ولا الشافعی ولا الاوزاعی ولا الثوری وخُذ من حیث اَخذوا» -ترجمه : (زما تقلید هم مکوئ، نهٔ د مالکؒ، نهٔ د شافعیؒ ، نهٔ د اوزاعیؒ او نهٔ د ثوری رحمهم الله - او اَخله د هغه ځائے نه چه دوی اخستل کړی دی)۔

(فلانی ص ۱۱۳ اعلام الموقعین لابن القیم ۲/ ۳۰۲)۔

یعنی هغوی هم قرآن او سنت ته متوجه شوی دی او هغه ئے خپل دلیل ګرځولے دے۔ نو تاسو هم قرآن او سنت ته متوجه شئ - اللّٰه پاك عقل درکړے دے، او قرآن او سنت

آسان دی د اقوالو د علماؤ نه۔ نوځوك چه په مذاهبود علماؤ پوهیږی، نو په حدیث او قرآن پوهیدل هغه ته ډیر آسان دی۔

اوله مسئله: نکاح الشغار (یعنی د بدل نکاح)

"شغار"په لغت د عربئ کښ دوه معنے لری۔اوله دا ده چه دا الفاظ ماخوذ دی د شَغَرَالْبَلَدُ اِذَا خَلَا نه، یعنی معنیٰ د خالی والی ورکوی او شغار ته شغارهم ځکه وائی چه دا د مهرنه خالی وی۔

(زاد المعاد (٧/٤) لسان العرب (٧/ ١٣٤) النهاية (٤٨٢/٢)

دویمه معنیٰ د لفظ د شغار ماخوذ دے، د "شَغَرَ الْکَلْبُ اِذَا رَفَعَ رِجْلَهُ" نه ، یعنی معنیٰ د خپے اُوچتولو ورکوی، او شغار ته شغارهم ځکه وائی چه په دے کښ دا شرط لګولے شوے وی چه زما د لور خپے به ته هله اُوچتوے چه زۀ ستاد لور خپے اُوچتے کړم، یعنی زما د لور سره تۀ نکاح نۀ شے کولے، تر څو چه ما ستا د لور سره نکاح نه وی کړی۔

اُوګوره زاد المعاد ٧/٤ لسان العرب ١٤٤/٧) المغنی ٥٦٨/٧)۔

نودا خو د لغت په لحاظ سره معانی شوے۔

بیا د شغار مختلف صورتونه دی:

اول دا چه یو شخص د بل شخص د خور یا لور سره نکاح اُوکړی او هغه بل د دهٔ خور یا لور سره نکاح اُوکړی او مهر پکښې مقرر نکړی۔

دویم صورت دا دے چه یو کس د بل کس د خور یا لور سره نکاح اُوکړی په دے شرط چه هغه به نکاح د دهٔ د خور یا لور سره کوی، او مهر به دواړه مقرر کړی۔

دریم صورت دا دے چه یو کس بل ته خور ورکړی او هغه وادهٔ کړی، ډیره موده پس بغیر د شرط لګولو نه هغه بل اُووائی چه ستاسو ډیره ښه کورنئ ده، مونږ هم خور لور ستاسو ځوی، ورور، وُرارهٔ ته ورکوو۔ دا دریم صورت اتفاقاً جائز دے لکه روستو ذکر کیږی۔ اولنی صورت باندے نکاح کول په اتفاق د علماؤ سره حرام دی د راتلونکی دلائلو د وجے نه۔

اول دلیل د قرآن کریم نه۔ الله پاك فرمائی:

﴿ وَمَآ اٰتٰكُمُ الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُ وَمَا نَهٰكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوْا ﴾ ۔(مجادله)

ترجمه: کوم شے چه رسول الله ﷺ تاسو ته درکوی هغه واخلئ عمل پرے اُوکړئ او د کوم شی نه مو چه منع کوی نو

ځان ترې وُساتئ،او دا هغه آيت دے چه ډير عموم په کښې دے، دا وجه وه چه ابن مسعودؓ پدے آيت دليل نيولے دے په حُرمت د شرط لګولو او د وُروځونه ويښتهٔ شوکولودے اوغاښونو تراشلو باندے۔اوګوره دغه حديث په بخارى ۲/ مسلم ۲/ مشکوٰة (۲/ ۳۸۱) کښې تفصيلاً دا رنګ ابن کثير ٤/ مجادله وغيره کښې)۔ نو اوس به اُوګورو چه رسول ﷺ مونږ د دے قسم نکاح نه منع کړى يُو او که نه۔

دويم دليل د احاديثو نه : هغه حديث د ابن عمرؓ دے چه الفاظ ئے دا دى :

عن ابن عمر قال : « نهى رسول الله صَلَّى الله عليه وسلم عن نكاح الشغار » - (رسول ﷺ د شغار د نکاح نه منع کړے ده)۔ د نافعؒ او مالكؒ او د انس بن مالكؓ تفسير دلته د شغار يو ذکر کړے دے او هغه دا دے : «والشغار ان يزوج الرجل ابنته علٰى ان يزوجه الآخر ليس بينهم صداق»۔ چه يو بل سره به نکاح کول بغير د مهر نه ۔ دا معنٰى د دے علماؤ نه په :

بخارى (٢/٧٦٦ مشكوٰة (٢/٤) مسلم (١/٤٥٤) المصنف لعبد الرزاق (٦/١٨٤). وغيره نقل شويده۔

لیکن مطلب ددے علماؤ دا نۀ دے چه د شغارهم دا یو تفسیر دے۔ (لیس بینهما صداق) قید احترازی نۀ دے، ځکه چه روستو په خبره ډیر دلائل بیانیږی۔

دویم صورت د شغارهم حرام دے له وجے ددے راتلونکو دلائلو نه۔ **اول** دلیل قرآن فرمائی:

﴿ وَمَاآتٰكُمُ الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُ وَمَانَهٰكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوْا ﴾۔

ددے معنې مخکښ ذکرشوه ۔ دویم دلیل د حدیث نه :

عن ابن عمر رضی اللّٰه عنه قال نهٰی رسول الله صلی الله علیه وسلم عن الشغار۔ (رسول الله ﷺ د بدل د نکاح نه مطلقاً منع کړے ده) ۔ په دے حدیث کښ دا الفاظ چه (والشغار ان یُزوّج الرجل ابنته علی ان یزوّجه الآخر ابنته ولیس بینهما صداق) ۔د رسول الله ﷺ الفاظ نۀ دی، بلکه دا د نافعؒ یاد مالكؒ یا بل کوم شخص دی لکه مخکښ ذکر شو، او څوك چه وائی د نبی ﷺ الفاظ دی فعلیه البیان ۔دا مخکښ حدیث مطلق دے۔ رسول الله ﷺ الله پاك د بیان د پاره رالیږلے وو، او هغه په دے مقام کښ دا معنیٰ نۀ ده خاص کړے چه شِغار بے مهره نکاح ته وائی بلکه منع ئے مطلقه کړے ده۔ او دا د احنافو علماؤ اُصول دی چه مطلق

به په خپل اطلاق جاری کیږی ـ دا حدیث په دے کتابونو کښ مفصلًا اوګوره :

مسلم (۱/ ٤٥٤) بخاری (۷٦٦/۲) ترمذی (۱۲۱٤/۱) نسائی (۸۳/۲) ابوداود (۲۹۰/۲) ابن ماجه (٦٠٦/۱) ارواء الغلیل (۳۰٥/٦) المصنف لعبد الرزاق (۱۸۳/٦) السنن الکبریٰ للبیهقی ۱۹۹/۸).

دویم حدیث :

عن انس رضؓ قال رسول الله ﷺ : ((لاشغار فی الاسلام)) ـ

(د انس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی چه په اسلام کښ د بدل نکاح د سره نشته)ـ

(ترمذی ۲۱۳/۱ مشکوٰة ۲٥٥/۱ ابن حبان ۱۸۰/٦ موارد الظمآن ص ۳۰۹).

دا حدیث د عمران بن حصینؓ نه په بل روایت هم نقل دے کما فی المصارد المذکورة ـ دے حدیث کښ ډیر عموم او اطلاق دے لکه علماء په دے پوهیږی۔ دلته هم رسول الله ﷺ تخصیص د یوے معنے نهٔ دے کړے، بلکه خبره ئے عامه کړے ده۔ ولے دا رسول الله ﷺ څهٔ د حق پتونکے وو ستاسو په نزد ؟۔ لُغت کښ چه د شغار کومے دوه معنے وے هغے دواړو باره کښ رسول الله ﷺ اُوفرمایل : چه (لاشغار

فی الاسلام) دا دواړه قسمه شغار او بدل ناروا دي۔ کوم کسان چه د نبی ﷺ الفاظ ورته لوی او عظیم ښکاره کیږی نو د هغوی د پاره دا یو حدیث کافی دے۔

دریم حدیث : قال ابوداود ۱/ص ۲۹۰ حدثنا محمد بن یحیٰ بن فارس نا یعقوب بن ابراهیم حدثنی ابی عن ابن اسحاق حدثنی عبدالرحمٰن بن هرمز الاعرج : ان عباس بن عبدالله بن عباس انکح عبدالرحمٰن بن الحکم ابنته و انکحه عبدالرحمٰن بنته و کانا جعلا صداقاً فکتب معاویة الی مروان، یأمره بالتفریق بینهما. فقال فی کتابه : هذا الشغار الذی نهٰی رسول الله صلی الله علیه و سلم عنه.

ترجمه : عباس بن عبد الله بن عباس ؓ په نکاح ورکړه عبد الرحمٰن بن الحکم ته لور خپله او عبدالرحمٰن بن الحکم خپله لور دهٔ ته ورکړه او دواړو مهر مقرر کړے وو۔ نو معاویه ؓ خط راولیږلو مروان والی ته، په جدائی راوستلو د دوی په مینځ کښې یعنی په نکاح ماتولو ئے ورته امر وکړو، چه ددے دواړو نکاح ماته کړه او خط کښې ئے دا اُولیکل چه دا بعینهٖ هم هغه شغار دے کوم نه چه رسول الله ﷺ منع کړے ده

دا حـديث ابن حبان هم ذكر كړيدے (٦/ ١٨٠) او دا باب ئے لګولے دے: (بـاب وصف الشغار الذى نهىٰ رسول الله صلى الله عـليه وسلم عن استعماله) ـ(تـرجمه) : باب دے په بيان د هغے بـدل كښ چـه رسـول الـلـه ﷺ ترے منع كړے ده) بيا ئے دا حـديث د مـعـاويـهؓ ذكـر كـړے دے۔ او دا حـديث المحدث الالبانى په خپل كتاب (ارواء الغليل ٦/ ٣٠٦ـ٣٠٧) او په (صـحـيـح سـنـن ابى داود ٢/ ٣٩١) كـښ راوړے دے او دا ئے فـرمـايـلى دى چـه سـند ئے حسن دے۔ حسن ئے ورته ځكه وئيـلے دے چـه پـه دے كـښ مـحـمد بن اسحٰاق دے او هغه حَسَـنُ الـحـديث دے كـلـه چه عنعنه اُونكړى ـ كما يعرفه الـعـلماء) ـاو دا حديث مسند احمد (٤/ ٩٤) موارد الظمآن ص (٣٠٩) كـښ هـم شتـه ـ دا حـديث صريح دے پـه رد د نـكـاح د بدل كښ سره د هغے نه چه مهر پكښ مقرر شوے هـم دے، او دا استـدلال چه پرے مونږ كړيدے دا لوئى لوئى عـلماؤ كړے دے لكه ابن حزمؒ په المحلىٰ كښ ٩/ ١١٩) دا رنـګـه الـمـحـدث الالبانىؒ په ارواء الغليل او ابن ضويان په ”مـنـار السبيل“ كښ او ابن بازؒ په هيئة كبار العلماء كښ لكه روستـو هـغـه فتـوىٰ ذكر كيږى ان شاء الله ـ او ابـن قـدامهؒ په

المغنی کبنں (۷/ ٥٦٧) او الخرقیؒ هم کړے دے کمافی زاد المعاد ۳/ص ۷) والمغنی ۷/ص٥٦٨)

یوه شبهه او د هغے جواب :

بعضِ علماؤ په دے حدیث کښں داسے معنے لیکلے ده : (دے دواړو نکاح مهر مقرر کړے وو لکه عون المعبود / دا نقل صرف کړے دے او شبهه ورته د دے نه پیدا شوے ده چه په روایت د ابن حبان (٦/ ٨٠) کښں داسے الفاظ راغلی دی : ((وكانا جعلاه صداقاً)). موارد ص ۳۰۹۔

جواب دا دے چه صحیح الفاظ ابوداود ۲/ ۲۰۹۰ او مسند احمد ٤/ ٩٤ او ارواء الغلیل ٦/ ٣٠٧) ذکر کړی دی او هغه داسے دی: ((وكانا جعلا صداقاً)) ۔موارد ص ۳۰۹)۔

او "جعل" په معنیٰ د عمل او هَيَّئا سره دے کما فی لسان العرب ۲/ ۳۰۰۔۳۰۱)۔نو معنےٰ دا ده چه وو دا دواړه چه مهرئے مقرر کړے وو، او دا معنیٰ دغه مذکوره علماو کړے ده، او همدا ظاهره ده۔ ولے کۀ چرے هغوی مهر نۀ وی مقرر کړے نو داسے الفاظ به یے نۀ وئیلے ۔ او د دے حدیث زیاته تشریح به د ابن حزمؒ په فتوٰے کښں راشی ان شاء اللّٰہ ۔

څلورم دلیل: اجماعِ سکوتی د صحابه کرامؓ ده ۔کله

چه معاويه ؓ دا نكاح ماته كړه ، او صحابه موجود وو۔ او عباس بن عبد الله بن عباس او عبدالرحمٰن دا دواړه د لوئ كورنئ خلق دى اول د خلفاءِ عباسيه ؤ نه او دويم د نبى اُميه ؤ نه دے۔ يو صحابى هم دا نهٔ دى وئيلى چه خير دے مهر مقرر دے جائز دِ شى، او كهٔ مهر مقرر نهٔ وى نو خير دے مقرر به ئے كړو نو نكاح به صحيح شى، بلكه نكاح ئے په حضور د صحابه كرامؓ كښې ماته كړه او يو بل ئے جدا كړل۔

پنځم دليل : دا دے چه د كوم يو صحابى يا تابعى ياكوم عالم امام نه دا نقل چرته نشته چه هغوى نكاح د بدل سره د مهر نه مقرر كړے وى سره ددے نه چه اُوس خلق دا ډير كوى۔ نو هغوى ولے نهٔ كوله ۔ دا ښكاره شوه چه دا يو بدعت دے، او روستنو ناپوهانو ايجاد كړے دے، او مخكنى علماء ئے پرے بد نام كړى دى۔

شپږم اثر د عطاء بن ابى رباح دے ۔ قال عبدالرزاق فى المصنف ٦/١٨٣ وابن حزم فى المُحلّٰى ٩/١٢٢): حدثنا عبدالرزاق عن ابن جريج قال سئل عطاء عن رجلين انكح كل واحد منهما اخته بان يجهز كلو احد منها بجهاز يسير لوشاء اخذلها

اكثر من ذٰلك قال : لا ! نُهی عن الشغار قلت له : انه قد اَصْدَقَهَا كلاهما ؟ قال : لا ! قد ارخص كلواحد منها علیٰ صاحبه من اجل نفسه فقلت لعطاء: ينكح هٰذا ابنته بكذا و هذا ابنته بكذا بصداق كلاهما يسمى صداقه وكلاهما ارخص علیٰ اخيه من اجل نفسه قال : اذا سمّيَا صداقاً فلا باس فان قال جهز و اُجهز فلا ذٰلك الشغار قلت : فان فرض هذا و فرض هذا ؟ قال : لا !۔ مطلب د دے عبارت دا دے چه عطاء بن ابی رباح سائل ته دا فتوٰی ورکړه چه بدل په دوه قسمه دے اول دا چه یو بل ته خور ورکړی او مهر مقرر کړی لږ لږ د ځان د آسانئ د پاره نو دا هم شغار دے او منع دے۔ او دا صورت هم ناروا دے ۔ چه تهٔ خپلے لور لره سامان اُوکړه ، زهٔ به ئے خپلے لور لره اُوکړم، او یا تهٔ هم مقرر کړه ، زهٔ به ئے هم مقرر کړم، دا ټول صورتونه د شغار دی او منع دی۔او دویم صورت ئے ورته دا بیان کړو چه یو سړے بل ته خور لور ورکړی، شرط ورسره اُونهٔ لګوی، چه تهٔ به هم خور لور راکوے، او هغه ئے بیا روسته ورکړی دهٔ ته، او مهر مقرر کړی نوباك نشته ۔او مونږ چه کوم دریم صورت بیان کړیدے هغه هم دا دے۔او دا صورت هم اتفاقاً جائز دے۔

«فان خطب احدهما الى الآخر فزوّجه ثم خطب الآخر اليه فزوّجه فذٰلك جائز ما لم يشترط ان يزوج احدهما الآخر فهذا هوالحرام الباطل»۔ المحلّٰی ۹/۱۲۳)۔

مطلب ددې عبارت دا دې چه دريم صورت د شغار جائز دې، هغه دا چه يو شخص بل ته پيغام د نکاح ورکړی اوهغه ورسره رضا شی، لور خور ورکړی۔ بيا روسته دا بل دهٔ ته پيغام ورکړی، نو دې هم لور خور ورکړی، نو دا جائز صورت دې، او کهٔ شرط ئې اُولګولو چه زهٔ به ئې درکوم په دې شرط چه تهٔ به ئې هم راکوې، نو حرام ده او باطل ده۔ او وم دليل هغهٔ يوه قاعده ده چه شيخ الاسلام ابن تيميهؒ په خپله "فتاوٰی" کښې ذکر کړې ده (۳۲/۱۵۹) هغه دا ده، چه:

«هل علة تحريم نكاح الشغار اشتراك فى البضع او تعليق احد النكاحين على الآخر او غير ذٰلك ولٰكن الارجع بطلان هذا النكاح بوجهين الاول النصوص الثابتة عن النبى صلى الله عليه وسلم فى نهيه عن نكاح الشغار ولان الصحابة فرقوا بين الزوجين فى نكاح الشغار فتبين بالنصوص واجماع الصحابة فساد هذا النكاح۔ الوجه الثانى :لوقلنا بصحة هذا النكاح مع الشرط

الفاسد وهوتعليق احد النكاحين علىٰ لآخر وهذا خلاف النص والاجماع اونفسخ هذا الشرط الفاسد فهذا الزام للعاقد بمالايرضی به» ـ (ملخصاً).

مطلب دا شو چه وجه د حرمت د نکاح د بدل هغه دا ده چه يوه نکاح د بل د پاره شرط کړے شوے ده برابره ده کۀ مهر پکښ وی او کہ نه۔ دويمه وجه هغه احاديث دی او اجماع د صحابه کرامو ؓ ده په دے خبره چه نکاح د بدل مطلقاً فاسده ده۔ اوبله وجه دا ده کۀ نکاح د بدل مونږ صحيح اُووايُو سره د دغه شرطِ فاسد نه (چه خور به راکوے نو هله به خور درکوم) نو دا خو د قرآن او سنت او اجماع د ټولو نه خلاف دے او کۀ شرط فاسد ترے لرے کړو بياخو بدل نشو د دۀ مقصود خراب شو، ځکه دے شخص خو دا شرط هم ددے د پاره لګولو چه نکاح د بدل اُوکړی چه څۀ نه څۀ مهر به ورته کم شی، او ځوئ ياځان له به ښځه راولی په خپله لور خور باندے۔

اتمه وجه : عقلی ده هغه دا چه په بدل کښ کۀ مهر مقرر وی او کہ نه، مفاسد ئے ډير دی۔ کوم ځائے کښ چه بدل شوے دے هلته هميشه جنګونه وی، او د بدل د وجے

نـه خـلق ښـځے طلاقوی ځکه چه د دۀ خورئے طلاقه کړے
ده۔او دا یـو غیـرت گـنـړی۔ پُښتـانـه دوه مثـالونـه پیـش
کـوی۔یـووائـی بدل ښۀ ته وائی، بد حال ته وائی۔دویم دیته
وائـی چه بدل د خرۀ هم ښۀ نۀ دے، پاتے لابدل د زنانَو۔نو هر
مسلمان دِ دا یقین اُولری چه ﷲ او د هغۀ رسول ﷺ چه د
څۀ نـه مـنع کوی هغے کښ خامخا ضرر وی، اگر کۀ اِنسان
ته اولاً نۀ ښکاری۔ لیکن ﷲ رب العزت عالِم دے، او حکیم
دے، او نبی ﷺ تـه ئے هـم ډیر عـلـم او حکمت ورنصیب
کـړے دے، د هـغـۀ نـه زمونږ او ستـاسے عـقل نـۀ شی
اُوچتیـدے۔نـو دمسـلـمـانـانـو شان دا دے چه خپل ځان سم
کـړی حکم د ﷲ او د رسـول ﷺ تـه اگـر کـۀ دے حکم کښ
ظاهراً تکلیف وی هم۔

نهمه وجه : دا ده چـه عـلت د حرمت د نکاح د شغار څۀ
دے۔دے کښ اقوال د علماؤ اُوگوره :

(۱) قال القفال العلة فی البطلان التعلیق والتوقیف وکانه یقول لاینعقد لك
نکـاح ابنتی حتی ینعقد لی نکاح ابنتك ۔(۲) وکـان ابن ابی
هریرة یشبهه برجلٍ تزوج امراة ویستثنی عضواً منها۔ وقال بعض العلماء
العلة عدم الصداق و قال بعضهـم العلة التشریك فی البضع وقال بعضهم

العلة الشرط۔

د دے عبارتونو نه مقصد دا دے چه د اکثرو علماو قول دا دے چه نکاح د شغار حرام ده، د دے وجے نه چه یو شرط کړے شوے ده د بل لپاره ۔ برابره ده کۀ مهر پکښې مقرر وی او کۀ نـه ۔ اُوګوره نیل الاوطار (٦/٢٧٩) مجموعة الفتاویٰ ٣٢/١٥٩ فتح الباری ج ٩ ص ١٣٣) او مسلم (١/٤٥٤) د ابن نمیرؒ نه نقل کړے ده ،او نسائی ٢/٨٥) د عبید ﷲ نه دا خبره نقل کړیده۔

لسمه وجه: فتوٰی د محققینو علماؤ ده ۔

اوله فتویٰ : قال الخطابی فی معالم السنن ٢جلدص ٥٦٠ فی معنی الشغار : «وقال بعضهم اصل الشغر فی اللغة الرفع -يقال شغر الكلب برجله اذا رفعها قال فانما يسمى هذا النكاح شغاراً لانهما رفع المهر بينهما- قال الشيخ : وهذا القائل لاينفصل ممن قال بل سمى شغاراً لانه رفع العقد من اصله فارتفع النكاح والمهر معاً ويبين لك ان النهى قد انطوى على الامرين معاً ان البدل ههنا ليس شيئاً غير العقد ولاالعقد شيئاً غير البدل فهو اذا فسد مهراً فسدعقداً -واذا ابطلته الشريعة فانما افسدته على الجهة التى كانوا يوقعونه وكانوا يوقعونه مهراً وعقداً فوجب ان يفسدا معاً الخ» ۔

د امام خطابیؒ د عبارت مقصد دا دے چه دا رد کوی په هغه شخص چه هغه وائی چه شغار دے ته وائی چه مهر پکښ نهٔ وی۔ خطابیؒ فرمائی : دا خبره صحیح نهٔ ده، بلکه شغار ته شغار ځکه وائی چه دا د اصل نه پور ته دے یعنی دا عقد کول تهیك ندی، نو عقد هم غلط دے۔ او کهٔ مهر مقرر وی نو هم غلط، ځکه چه نهی او منع د نبی ﷺ دوارو شیانو ته متوجه ده چه هغه عقد او مهر دواړه دی۔ او شریعت چه بدل ته باطل وئیلی دی، په هغه بدل ئے رد کړے دے چه جاهلانو به کاوو او هغوی به بدل کولو سره د مهر نه او کله بغیر د مهر نه۔ نو دا ضروری ده چه نکاح د بدل په دواړو صورتونو کښ فاسده وی۔

دویمه فتوی : وقال الشافعیؒ : « اِذا زوّج الرجل ابنته او المرأة یلی أمرها من کانت لآخر علی ان صداق کل واحدة منهما بضع الاخری او علی ان ینکحه الاخری سمی مهراً اولم یسم فالنکاح باطل »۔ ملخصاً من فتح الباری ۱۳۴/۹ ونقل عنه قول آخر ایضاً۔

د امام شافعیؒ نه دا نقل دی چه هغه فرمائی کله چه سړے خپله لور یا بله ښځه چه دا ئے ولی وی بل سړی ته

ورکړی په دے شرط چه بضع یعنے فرج به مهر وی، او یا دا شرط ولګوی چه لور خور به راکوے اَو زهٔ به هم لور خور درکوم دا د هغه یوه فتوٰی ده۔ بله فتوٰی ترے هم نقل ده لیکن دا صحیح فتوٰی ده۔

دریمه فتوىٰ : قال علماء السعودية فى هيئة كبار العلماء (٦٣٦/٢، ٦٢٨/٢)۔ سئلوا عن نكاح الشغار «نود من فضيلتكم ايضاح حكم نكاح الشغار حيث ان هناك من العلماء من يرى انه اذا كان هناك صداق رسمى عندالعقد فالنكاح صحيح والبعض يقول انه غير صحيح ۔**الجواب** : نكاح الشغار من جملة الانكحة المنهى عنها وسماه بعض الناس نكاح البدل و هو ان يقول الرجل للرجل زوجنى بنتك و ازوجك بنتى او زوجنى اختك واُزوّجك اختى او زوّجنى بنتك واُزوّجك اختى وماشبه ذٰلك سمَّيَا صداقا او لم يسميا هٰذا هو نكاح الشغار وقد صح عن الرسول صلى اللّٰه عليه وسلم النهى عنه من حديث ابن عمر ومن حديث ابى هريرة و من حديث معاوية رضى الله عنهم وفى احاديث اخرٰى وقد اختلف العلماء فى صحته وفساده والصواب انه نكاح فاسد ولو سمى فيه صداقاً للاحاديث المذكورة ولان فى حديث معاويةؓ انه امر امير المدينة

بالتفريق بين متناكحين نكاح الشغار مع انهما قد سميا صداقاً
وقال رضى الله عنه هٰذا هو الشغار الذى نهى عنه رسول الله صلى
اللّٰه عليه وسلم، والصواب من قولى العلماء فى هٰذا انه نكاح
فاسدلايصح مادام فيه الشرط وهوان يقول كل واحد للاٰخر
زوّجنى اختك او بنتك او بنت اخيك وازوجك بنتى او اختى او
بنت اخى و نحو ذٰلك لما فيه من جعل بضع كل واحدة مهراً
للاُخرٰى فى الحقيقة ولمايترتب عليه من الظلم والفساد والاختلاف
والشقاق ولان الاصل فى النهى هو التحريم وفساد المنهى عنه والله
سبحانه يقول: ﴿ فَإِنْ تَنَازَعْتُمْ فِىْ شَىْءٍ فَرُدُّوْهُ إِلَى الله وَالرَّسُوْلِ﴾
الاٰية -واذا رددنا هٰذا الىٰ كتاب الله وجدنا الله سبحانه يقول
وَمَآاٰتٰكُمُ الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُ وَمَانَهٰكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوْا - ويقول
سبحانه : ﴿فَلْيَحْذَرِ الَّذِيْنَ يُخَالِفُوْنَ عَنْ اَمْرِهٖ اَنْ تُصِيْبَهُمْ فِتْنَةٌ اَوْ
يُصِيْبَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ﴾ ٥ ويقول عزوجل : ﴿مَنْ يُّطِعِ الرَّسُوْلَ فَقَدْ
اَطَاعَ اللّٰه﴾ -واذا رددنا ذلك الى السنة وجدنا النبى صلى اللّٰه عليه
وسلم قد نهٰى عن هٰذا فى عدة احاديث وزجر عنه فوجب على
المسلم الاخذ بما دل عليه الكتاب والسنة وعدم الالتفات الىٰ
ماخالفا ذلك والله ولىُّ التوفيق))-

د سعودى عرب علماؤ تهولو دا فتوٰى وركړے ده چه نكاح

د بدل فاسد ده کۀ مهر په کښې مقرر وی او که نه۔ دے کښې څۀ نه څۀ اختلاف د علماؤ شته ۔لیکن حق قول او صحیح فتوٰی هغه ده چه کومه د قرآن او سنت مطابق وی۔او قرآن او سنت چه کله مونږ مطالعه کړو، نو مونږ ته دا یقینی معلومه شوه چه د بدل نکاح حرامه ده او فاسده ده ۔او ضررونه او فسادونه ئے ډیر دی۔نو هر مسلمان باندے واجب چه په قرآن او سنت باندے منګولے اُولګوی او نورو فتوو ته توجه اُونکړی ۔ والله ولی التوفیق۔ او ابن بازؒ یوه رساله لیکلے ده په رد د نکاح الشغار کښې هغه مطالعه کړه۔

څلورمه فتویٰ: د ابن حزم رحمه الله ده په المحلیٰ کښې (۹/۱۱۸. ۱۲۳).قال رحمه الله: ((مسئله . ولایحل نکاح الشغار وهو ان یتزوج هذا ولیة هذا علیٰ ان یزوجه الآخر ولیته ایضاً سواء ذکرا فی کل ذلك صداقاً لکل واحدة منهما اولاحدهما دون الاُخریٰ او لم یذکرا فی شیء من ذٰلك صداقاً، فکل ذٰلك سواء یفسخ ابداً ولانفقة فیه ولامیراث ولاصداق ولاشیء من احکام الزوجیة ولاعدة فان کان عالماً فعلیه الحد کاملاً ولایلحق به الولد وان کان جاهلاً فلاحد علیه والولد له لاحق وان

كانت هى عالمة بتحريم ذٰلك فعليها الحد وان كانت جاهلة فلاشيء عليها- ثم ذكر بعض الاحاديث التى ذكرناها - ثم قال والوجه الاٰخر و هوالذى نعتمد عليه وهو ان هٰذين الخبرين انما فيهما تحريم الشغار الذى لم يذكر فيها الصداق فقط وليس فيه ذكر الشغار الذى ذكر فيه الصداق لابتحريم ولاباجازة ومن ادعٰى ذٰلك فقد ادّعى الكذب وقول رسول الله صلى الله عليه وسلم ما لم يقله قط فوجب ان نطلب حكم الشغار الذى ذكر فيه الصداق فى غير هذين الخبرين فوجدنا خبر ابى هريرة و جابر قد وردا بعموم الشغار وبيان انه الزواج بالزواج ولم يشترط عليه الصلوٰة و السلام فيهما ذكر صداقٍ ولا السكوت عنه فكان خبرابى هريرة زائداً علٰى خبر ابن عمر و خبر انس زيادة عموم لايحل تركها- قال ابومحمد وقد صح عن رسول الله صلى الله عليه وسلم كل شرط ليس فى كتاب الله عزوجل فهو باطل بكل حال- ثم ذكر حديث معاوية الذى ذكرناه -ثم قال قال ابومحمد فهذا معاوية بحضرة الصحابة لايعرف له منهم مخالف يفسخ هٰذا النكاح وان ذكر فيه الصداق و يقول انه الذى نهى عنه رسول صلى الله عليه وسلم فارتفع الاشكال جملة - و هذا خبر صحيح -ثم ذكر رواية عطاء

الذی ذکرناہ ۔قال ابومحمد فان خطب احدهما الی لآخر فزوجه ثمّ خطب الآخر الیه فزوّجه فذٰلك جائز ما لم یشترط ان یزوج احدهما الاُخر فهذا هو الحرام الباطل» انتهٰی ملخصاً ۔

مطلب ددے عبارت دا دے چه نکاح د بدل دے ته وائی چه یو بل له جینئ ورکړی او شرط پکښې اُولګوی چه زهٔ به هم خور یا لور یاوریره راکوی برابره ده کهٔ مهر پکښې مقرر وی او که نه۔او کهٔ د یوے د پاره وی او د بلے د پاره نهٔ وی په دے ټولو صورتونو کښې به دا نکاح ماتولے شی، او دا د سره نکاح نهٔ ده، پس کهٔ چرته پو هه وی په دے خبره او بیا هم دا قسم نکاح کوی،سل دُرے به وهلے شی او کهٔ ناپو هه وی نوبیاورله دُرے ورکول نشته۔ بیا ئے په خپله دعوٰی احادیث پیش کړی دی، اول حدیث د ابن عمر بیا حدیث د ابی هریرهؓ بیا حدیث د اَنسؓ ۔ او دا ټول مونږ مخکښې ذکر کړی دی له دے وجے نه مو دلته اُونه لیکل۔بیا ئے فرمایلی دی چه احادیث دے باره کښې مطلق راغلی دی۔ رسول ﷺ دا نهٔ دی وئیلی چه مهر پکښې مقرر وی نو جائز دی۔بلکه معاویهؓ دا نکاح په حضور د اکثرو صحابه کرامؓ اَو اُوچتو اُوچتو تابعینو کښې ماته کړے وه ، او اَمرئے

کړې دې په ماتولو د دې قِسم نکاح چه مهر پکښې مقرر شوې هم دې او يو کس هم رد نهٔ دې کړې چه ولې دا نکاح ماتوې دا خو جائز ده نو دې خبره کښې هيڅ اشکال نشته (مؤمن د پاره) ـ بيا ئې د عطاءؒ هغه قول ذکر کړې دې کوم چه مخکښې په شپږمه وجه کښې بيان شو ـ بيا ئې د جواز صورت هغه ليکلې دې چه کوم مونږ مخکښې ذکر کړې دې او هغه دا چه يو بل ته خِطبه (پيغام) د نکاح اُولېږي ـ او هغه لور خور ورکړي په غير د شرط د بدل نه بيا روسته دا بل پيغام ورکړي نو هغه ورله هم خور لور ورکړي، نو دا جائز دي، او شروط لګول حرام او باطل دي ـ وبالله التوفيق ـ

پنځمه فتوىٰ: د علماءِ احنافو ده او هغه دا ده، چه نکاح د شغار مکروه تحريمي ده هغه نکاح چه کوم کښې مهر مقرر وي او کهٔ مهر مقرر نهٔ وي نو هغه خو په اِتفاق د علماو سره ناروا ده ، دليل په دې خبره دا دې، ابن حجر فتح الباري ۹/ ۱۳٤) کښې فرمائي :

وقال ابن عبد البر : «اجمع العلماء علىٰ ان نكاح الشغار لايجوز ولكن اختلفوا فى صحته فالجمهور علىٰ البطلان و ذهب الحنفية الى صحته و وجوب مهر المثل»۔

اُوګوره دا عبارت په حاشیه د بخاری کښ هم۔ بخاری (۷٦٦/۲)حاشیه نمبر ٦ ۔نیل الاوطار ٦/ ۲۷۹) ۔

معنی د عبارت دا ده چه د ټولو علماو اتفاق دے په دے خبره چه د بدل نکاح بغیر د مهر نه جائز نده ۔ خو اکثر علماء وائی چه دا نکاح باطله ده ۔او احناف وائی کۀ مهر پکښ مقرر کړے شی نو بیابه جائز وی، نو د دے عبارت نه معلومه شوه چه بے مهره نکاح اتفاقاً ناجائزه ده ۔او دلیل په دے خبره چه کله مهر په پکښ مقرر شی هم احناف ورته مکروه تحریمی وائی هغه دا دے، زیلعیؒ په تبیین الحقائق (۲/ ۱٤٥) کښ فرمائی: «او هومحمول علی الکراهیة» ۔مطلب دا شۀ چه نکاح د بدل سره د مهر نه هم مکروهه ده او کراهت چه کله مطلق ذکر شی په کتابونو د احنافو کښ، نو مراد ترے نه مکروه تحریمی وی ،اُوګوره هدایه ٤/ ۳۸٤)۔ دا رنګه ابن عابدین په ردالمحتار (۲/ ۳۳۳) کښ فرمائی : «او هوای النهی محمول علی الکراهیة» ۔نکاح د شغار سره د مهر نه هم مکروه تحریمی ده ۔

الفقه الاسلامی وادلته (۷/ ۱۱٦/ ۱۱۷) کښ لیکلی دی

: «امانکاح الشغار فهو ان ینکح الرجل مولیته (بنته او اخته) علی ان ینکحه الأخر مولیته ولاصداق بینهما الابضع هذه ببضع الاخری اتفق العلماء علی معناه هٰذا وعلی انه نکاح غیر جائز لثبوت النهی عنه لخلوه عن المهر و اختلفوا اذا وقع هل یصحح بمهر المثل ام لا ؟فقال مالك والشافعی واحمد : لایصحح ویفسخ ابداً قبل الدخول وبعده لماروٰی ابن عمر ان رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم نهٰی عن الشغار والشغار ان یزوج الرجل ابنته علی ان یزوجه ابنته ولیس بینهما صداق وقال ابوحنیفة : یصح نکاح الشغار بفرض صداق المثل اماالنهی عنه فی السنة فمحمول علی الکراهة والکراهة لاتوجب فساد العقد فیکون الشرع او جب فیه امرین الکراهة ومهرالمثل ۔ والخلاصة ان نکاح الشغار باطل عندالجمهور صحیح مکروه تحریماعندالحنفیة» .

د دے عبارت حاصل دا دے چه نکاح د شغار دے ته وائی چه یو کس بل ته خور لور ورکړی بغیر د مهر نه۔ په دے د علماؤ اتفاق دے چه دا قسم نکاح جائز نده ځکه چه مهر پکښ نشته بیاپه دے کښ اختلاف دے کۀ چا اُوکړه داسے نو صحیح به وی په مهر مثل ورکولو سره او که نه ؟۔ نو اکثر علماء وائی چه دا نکاح باطله ده ځکه چه رسول ﷺ

صلی اللہ علیہ وسلم ترے نـه منع کرے ده ـ او امام ابو حنیفهؒ وائی چه صحیح به شی په مهر مثل ورکولو سره لیکن سره د کراهیت نه ـ یعنی خلاصه دا شوه چه نکاح د بدل د اکثرو علماؤ په نزد باطله ده او مکروه تحریمی ده په نزد د احنافو کله چه په کښ مهر مقرر وی ـ قال السندی فی حاشیة النسائی ۷۵/۲ ـ ((وقول الجمهور اقرب)) ـ معنیٰ دا ده چه د جمهورو مذهب په دے باره کښ زیات حق دے ـ

دلته یوه **بله قاعده** ده هغه دا ده چه یوه مسئله د نفاذ وی او بله مسئله د جواز وی ـ نو احناف علماء وائی چه اِبتداءً بدل کول نۀ دی پکار لیکن کۀ چا اُوکړه ، نو بیابه دا نکاح نافذه وی سره د دے نه چه سړے به گنهگار وی ـ لکه فقه کښ راځی کۀ چاپه شرابو او خنزیر باندے نکاح وکړه، نو نکاح صحیح ده او مهر مثل واجب دے ـ نو هر مسلمان دا پیژنی چه اِبتداءً په شرابو او خنزیر باندے نکاح کول گناه ده ـ لیکن فقهاء وائی کۀ چرته یو سړے جاهل شۀ او داسے ئے اُوکړۀ نو نکاح به ئے صحیح وی او مهر مثل به پرے واجب وی ـ اگر کۀ په دے مسئله کښ هم اختلاف شته دا رنگه احناف علماء نکاح التحلیل ته جائز وائی

سره د ګناه نه۔ نکاح التحلیل دے ته وائی چه یو سړے
ښځه طلاقه کړی په درے طلاقو ۔ نو بل کس ئے دهغۀ د
پاره حلاله کړی او نکاح ورسره اُوکړی د یوے شپے د پاره۔
او حدیث کښې ئے په داسے انسان باندِ لعنت وئیلے دے۔
لیکن جاهلان د فقهاو د عبارت په مطلب نۀ پو هیږی، نو
ځکه د جواز فتوِے مطلقاً ورکوی، او تتبع او تلاش د حق
هم نکوی۔ نو ځکه خلق په غلطو فتوو ګمراه کوی۔

شپږمه فتویٰ :د شوکانیؒ ده چه هغۀ په "نیل الاوطار
"۶/ ۲۷۹) کښې وئیلی دی : «وظاهر ما فی الاحادیث من النهی
والنفی ان الشغار حرام باطل وهوغیر مختص بالبنات والاخوات»
انتہی

مطلب دا دے چه په احادیثو کښې ظاهراً اوښکاره د بدل نه
منع راغلے ده، نو دلیل دے په دے چه دا حرام او باطل کار دے،
او دا خاص د لونړو او خویندو پورے نۀ دے بلکه وریرے او
خورزے باندے بدل کول هم ناروا دی ۔

اوومه فتویٰ : د امام احمد بن حنبلؒ ده :

قال ابن قدامة فی المغنی ۵۶۷/۷ رقم المسئلة (۵۴۸۴) «مسالة :
قال یعنی الخرقی - واذا زوجه ولیته علی ان یزوجه لآخر ولیته

فلا نكاح بينهما وان سموا مع ذلك صداقاً ايضاً - هذا النكاح يسمى شغاراً فقيل سمى لقبحه تشبيهاً برفع الكلب رجله ليبول فى القبح يقال شغر الكلب اذا رفع رجله ليبول وحكى عن الاصمعى انه قال الشغار الرفع فكان كلواحد رفع رجله للآخر عما يريد ولاتختلف الرواية عن احمد فى ان نكاح الشغار فاسد قال احمد وروى عن عمر رضـ وزيد بن ثابت رضـ انهما فرقا فيه وهوقول مالك و الشافعى وحكى عن بعض العلماء انه يصح وتفسد التسمية ويجب مهر المثل ولناماروى ابن عمر رضـ ان رسول الله صلى الله عليه وسلم نهى عن الشغار (متفق عليه) وفى الحديث لاشغار فى الاسلام ولانه جعل كلواحد فى العقدين سلفاً فى لآخر فلم يصح كما لو قال بعنى ثوبك على ان ابيعك ثوبى - ثم قال : فاما ان سموا مع ذلك صداقاً فقال زوجتك ابنتى على ان تزوجنى ابنتك ومهر كلواحدة منهما مائة او مهرا بنتى مائة و مهر ابنتك خمسون ففيه روايتان عن احمد قال الخرقى : ان هذا النكاح لايصح ايضاً لحديث ابى هريرة الذى اخرجه مسلم ١/٤٥٤ ولماروى ابوداود عن الاعرج ان عباس بن عبدالله بن عباس ثم ذكر حديث معاوية وفيه " وكانا جعلا صداقاً " ولانه شرط نكاح احدهما لنكاح الاخرى فلم يصح كما لو لم يسميا صداقا يحققه ان

عدم التسمية ليس بمفسد للعقد بدليل نكاح المفوضة فدل علىٰ ان المفسد هو الشرط وقد وجد ـ ولانه سلف فی عقد كما لو قال بعتك ثوبی بعشرة علیٰ ان تبيعنی ثوبك بعشرين ـ هذا الاختلاف فيما اذا لم يصرح بالتشريك فاما اذا قال زوجتك ابنتی علی ان تزوجنی ابنتك ومهر كلواحدة منهما مائة وبضع الاخرىٰ فالنكاح فاسد لانه صرح بالتشريك فلم يصح العقد كما لم يذكر المسمّٰی ورجح ابن قدامة هٰذا (انتهٰی) ملخصاً ـ وفی الزاد (٧/٤) والمعروف كالمشروط ـ

مطلب دا شو چه خرقیؒ د امام احمدؒ د مذهب يو لوئی عالم دے ـ هغهٔ فرمايلی دی چه سره د مهر نه هم بدل جائز ندے بيا ابن قدامهٌ په "المغنی" كښ د شغار تفسير ذكر كړے دے چه شغار ته شغار ځكه وائی چه دا يو قبيح كار دے لكه د سپی خپه اُوچتول او متيازے كول او اصمعیؒ ويلی دی چه شغار ته شغار هُم د دے وجه نه وائی چه دے كسانو هم يو بل ته خپه اُوچته كړے ده د بعضِ حقوقو نه ـ بيا د امام احمدؒ نه دوه روايتونه نقل دی ـ خرقی صاحب المتن وئيلی دی چه دا كار يعنی د بدل نكاح سره د مَهر نه هم ناروا ده ځكه چه په دے دلائل ډير دی يو حديث د

ابوهریره ﷺ په مسلم (۱/ ٤٥٤) کښې راغلې او هغه مخکښې بیان شۀ ـ دویم حدیث د معاویهؓ چه هغۀ دا قسم نکاح ماته کړې ده ـ بله وجه دا ده چه په بدل کښې یو عقد د بل د پاره شرط کړې شوې دې، لکه یو سړې اُووائی چه دا جامه په لس روپۍ درکوم په شرط ددې چه تۀ به هم فلانۍ جامه په شل روپۍ راکوې، او دا قسم بیعه خو جائز نده نو دا نکاح د بدل هم جائز نده ـ او کۀ چرته یو بل ته داسې وئیلی وی چه ستا لور زما د لور مهرشۀ او ځۀ ناځۀ پیسی به هم مقرر کړو، نو بیاخو اتفاقاً ناروا ده ـ او ابن قدامهؒ صاحب المغنی هم دې ته مائل دې ـ او زادالمعاد کښې وئیلی دی چه کۀ شرط وُنۀ لګوی، خو چه مشهور وی دا عمل، نو د هغې کول هم داسې دی لکه شرط لګول ـ نو کۀ یو انسان اُووائی چه ما خو ورسره شرط ندې لګولې، لیکن د خلقو دا عادت وی چه خامخا به ترې دا لور خور کوی نو دا داسې دې لکه شرط لګول ـ فتدبر ـ

اتمه فتویٰ: د امام مالکؒ ده :

قال ابن القاسم فی المدونة الکبریٰ ج۴/۱۵۲ سئل مالك عن رجل قال زوجنی ابنتك بخمسین دینار علیٰ ان ازوجك ابنتی بمائة

دینار فکرهه مالكؒ ورآه من وجه الشغار (انتهی)

مطلب د عبارت دا دے چه د امام مالكؒ نه تپوس اُوشود یو سړی په باره کښ چه وائی بل سړی ته چه په نکاح راکړه لور ستا په پنځوس روپئ (مثلا) په دے شرط چه زهٔ به هم تاله په سل روپئ خپله لور درکومه، نو امام مالكؒ بده اُوګنړله د وجے د شغار نه (یعنی ددے وجے نه چه دا شغار دے)، نو معلومه شوه چه مهر مقرر شی نو هم د مذکوره امام په نزد ناروا ده۔

قاعده عجیبه: اصل په اشیاؤ کښ اباحت دے، او اصل په فُرُوجو (یعنی زنانو) کښ حرمت دے۔ مطلب دا چه ټولے زنانه حرامے دی مګر هغه چه ﷲ او رسول ﷺ جائز کړی وی۔ نو مونږه د هغه کسانو نه تپوس کوو چه څوك نکاح د بدل ته جائز وائی نو هغوی دِ یو دلیل د جواز د قرآن یا حدیث نه راوړی چه په هغے کښ دا خبره وی چه دا جائز ده۔ او هیچرے دلیل د جواز هیڅوك نهٔ راوړے شی، او نهٔ ئے راوړے دے او نهٔ به ئے راوړی۔ دا مذکوره قاعده حافظ ابن حجرؒ په فتح الباری کښ جلد(۹ ص ۱۳۲) کښ او امام خطابیؒ په معالم السنن کښ ذکر کړے ده (ج ٦ / ٥٦٠)۔

فائده عجیبه: کومے نکاح ګانے چه د ناپوهۍ په وجه خلقو کړی دی او یا د جاهلانو مُلایانو د فتوِے د وجے نه ئے کړی دی نو د هغے ماتول په دوی نشته لیکن راتلونکی وقت کښ به کوشش کوی، چه د بدل نکاح خپله هم اُونکړی اَو نهٔ په هغے کښ شریك شی دے د پاره چه د رسول ﷺ په مخالفت کښ واقع نهٔ شی۔

دلیل دادے چه رسول ﷺ د جاهلیت نکاحګانے نهٔ دی ماتی کړی، او نهٔ ئے تازه کړی دی۔ او یوه مسئله شیخ الاسلامؒ خپله فتاوٰی کښ کړے ده۔ هغه دا چه چا د ناپوهۍ په وجه یا د کوم عالم مُولاد فتوے په وجه حرام مال یاغلطه نکاح وکړه، او بیا دے په مسئله پوهه شهٔ نو توبه دِ اُوباسی او هغهٔ مال او نکاح دِ نهٔ ختموی باقی دِ اُوساتی، لیکن بیادِ احتیاط کوی۔ وبالله التوفیق۔

خاتمة

فی بیان الاحادیث التی ذکرفیها مسئلة الشغار فتدبرفیها مع بیان مخارجهامفصلا. قال الحافظ فی بلوغ المرام ص (۲۱۲)

واتفقاعلی ان تفسیر الشغار من کلامِ نافع.

(۱) عن ابن عمررضی الله عنه ان النبی صلی اللّٰه علیه وسلم نهٰی

عن الشغار .اخرجه ابن حبان ٦/ ١٨٠.ومسلمؒ ١/ ٤٥٤) وذكر ان تفسير الشغار من قول نافعٍ .واخرجه البخارى كذٰلك ٢/ ٧٦٦ والمشكوٰة ٢/ ٤ والترمذى ١/ ٢١٤ والنسائى ٢/ ٨٤. ٨٥ وابن ماجه ١/ ٦٠٦رقم ١٨٨٣) ولم يعزه الٰى احد واخرجه ابوداود ١/ ٢٩٠ واحمد ٢/ ٧ و ١٩).

(۲)- عن ابى هريرةؓ قال : نهٰى رسول صلى اللّٰه عليه وسلم عن الشغار زاد ابن نمير والشغار ان يقول الرجل للرجل زوجنى ابنتك واُزوجك ابنتى وزوجنى اختك وازوجك اختى .اخرجه مسلم ١/ ٤٥٤ وفى هذا التفسير اشارة الى تعليق احدالنكاحين بالأخرسواء سمى المهر ام لا فتدبر. واخرجه النسائى ٢/ ٨٥ و ذكر: والتفسير من قول عبيداللـه هكذا والشغار كان يزوج الرجل ابنته علىٰ ان يزوجه اخته وهذا التفسير ايضاً مطلق واخرجه ابن ماجة (١/ ٦٠٦) من غير ذكر التفسير.

(۳) - عن جابرؓ يقول : نهٰى رسول الله صلى الله عليه وسلم عن الشغار .اخرجه مسلم ١/ ٤٥٤ واخرجه عبدالرزاق فى المصنف ٦/ ١٨٣ بهذا اللفظ بعينهٖ والبيهقى ٧/ ٢٠٠) .

(٤) – عن ابن عمرؓ ان النبى صلى اللّٰه عليه وسلم قال : لاشغار فى الاسلام اخرجه مسلم ١/ ٤٥٤ واخرجه ابن حبان ٦/ ١٨٠

عن انس رضی الله عنه مرفوعاً واخرجه الترمذی ص ٢١٣) عن عمران بن حصین وفیه زیادة لاجنب ولاجلب ولاشغار فی الاسلام .ومن انتهب نهبة فلیس منا وكذا اخرجه النسائی ٨٤/٢) واخرج ابن ماجه حدیث انس مرفوعاً بلفظ : لاشغار فی الاسلام (٦٠٦/١ رقم ١٨٨٥) ورواية عمران اخرجها ابن ابی شيبة ٦٥/٧ واحمد ٤٢٩/ أُنظر ارواء الغليل (٣٠٥/٦) و اخرج عبدالرزاق فی المصنف (١٨٣/٦) رواية ابن عمر وانس كلاهما اخرج احمد عن ابن عمرص (١) وكما فی المجمع ٢٣٦/٤) واسناده حسن .

(٥) – عن ابی ريحانة ان النبی صلى اللّٰه عليه وسلم نهٰی عن المشاغرة، والمشاغرة : ان يقول زوج هٰذا من هٰذه وهٰذه من هٰذا .اخرجه ابو الشيخ كما فی فتح الباری (١٣٣/٩) والنيل ٢٧٨/٦) والظاهران التفسيرليس من كلام النبی صلى اللّٰه عليه وسلم ولذلك قال الخطيب : تفسيرالشغار ليس من كلام النبی صلى اللّٰه عليه وسلم وانما هومن قول مالك وصل بالمتن المرفوع كمافی فتح الباری ١٣٣/٩) ونيل الاوطار (١٧٨/٦) . وقال الشافعیؒ : لاادری التفسيرعن النبی صلى اللّٰه عليه وسلم او ابن عمراو نافع او عن مالك .اقول ليس عندناكتاب ابی

الشيخ حتى ننظر فى سنده واخرج هذا الحديث الترمذى فى الباب مجملاً .

(٦) – عن الاعرج ،ان العباس بن عبدالله بن عباس انكح عبدالرحمٰن بن الحكم ابنته وانكحه عبدالرحمٰن ابنته وكاناجعلا صداقاً نكتب معاوية الى مروان ان يأمره ان يفرق بينهما وقال فى كتابه :هٰذا الشغار الذى نهٰى عنه رسول الله صلى الله عليه وسلم اخرجه احمد /ج ٤) رقم الحديث (٤١٤١) وحسّنه الالبانى فى ارواء الغليل ج ٦/٣٠٧) رقم (١٨٩٦) وانظر موارد الظمأن ص (٣٠٩) واخرجه البيهقى (٧/٢٠٠) وذكر الهيثمى فى مجمع الزوائد (٤/٢٦٦.٢٦٧) . روايات عن سمرة بن جندب ووائل بن حجر وأُبى بن كعب وابن عباس وكلها ضعيفة وبعضهااضعف من بعض فراجعه . فثبت لدينا بعد التتبع لهٰذه الروايات فى بطون الكتب ان الرسول صلى الله عليه وسلم نهٰى عن الشغارمطلقاً والذين فسروا الشغار لم ينقل احد منهم انه عليه السلام قال والشغار كذا مع انه عليه السلام جاء للبيان وهولاء الصحابة والتابعون لهم انماذكرو تفسيراً واحداً للشغار واطلق بعضهم التفسير كما قال ابن نمير وعبيدالله عند مسلم والنسائى : والشغار: ان يقول الرجل للرجل زوجنى ابنتك

وازوجك ابنتي وزوجني اختك وازوجك أُختي لم يذكر اللفظ بغير صداق بل انما حرم الشغار من اجل تعليق احد النكاحين على الأخر كما تقدم .فليحذر المسلم عن مخالفة الله ورسوله في جميع اموره لاسيما الامور المتعلقة بالحل والحرمة فان الله تعالىٰ قال : ﴿وَمَنْ يَّعْصِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَه يُدْخِلْهُ نَارًا خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا﴾ .والله وليٌّ التوفيق.

دویمه مهمه مسئله

چه د عربو جاهلانو په مینځ کښ مروجه وه اَو اُوس په پښتنو کښ ډیره مروّجه ده او حال دادے چه قرآن پاك ترے خپله منع کړے ده او هغه مسئله د "ایراث النساء" ده یعنی زنانه خپل میراث ګنړل، او هغه داسے چه یوه ښځه وی د هغے خاوند وفات شی، نو کهٔ دا ښځه وادهٔ وی او که نه، ددے لیور یا سخر یا د سخرورور وغیره راپاسی، او دا ښځه یا په خپله په نکاح کړی او یا ئے خرڅه کړی او یا ئے همداسے پریږدی چاله ئے نهٔ ورکوی ،او حال دا دے چه د شریعت قانونٔ دادے چه کله د ښځے خاوند وفات شی نو دا به څلور میاشتے او لس ورځے د خاوند په کور کښ انتظار

کوی کۀ وادۀ شوی وی۔ او کۀ حامله وی نو بچی پیدا کیدو پورے بـه انتـظار کوی بیا ددے خپله خوښه ده چه څوك ئے په نکاح اخلی وادِئے خلی۔

الله تـعـالـی فرمایلی دی : ﴿ يَآاَيُّهَاالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَايَحِلُّ لَكُمْ اَنْ تَرِثُوا النِّسَآءَ كَرْهاً ط وَلَاتَعْضُلُوْهُنَّ لِتَذْهَبُوْا بِبَعْضِ مَآاٰتَيْتُمُوْهُنَّ﴾ الأية (١٨) النساء پ ٤). "اے ایمان والو! جائزنه دی تاسولره چه په میراث واخلئ ښځو لره په زوره سره"۔ مـطـلـب دا دے چه زنانه تاسره نکاح نکوی او تۀ ئے په زوره پـه نـکـاح اخلـے او دا دعـوٰی کوے چه دا زما د رور ښځه ده مـاتـه میراث کښ پاتے شوے ده۔ امام بخاریؒ د ابن عباسؓ نه نقل کړیدے (٢/٦٥٨)۔

« قال : كانوا اذا مات الرجل كان اولياؤه احق بامرأته ان شاء بعضهم تزوجها وان شاء واء زوّجوهاوان شاء والم يزوجوها فهم احق بها من اهلها فنزلت هٰذه الأية » كما فی ابن كثير : (١/٤٦٤)۔

ابـن عبـاسؓ فـرمـائی: چه دا اٰیت په رد دهغه جاهلانو کښ نـازل شـویـدے چه کله به د ښځے خاوند وفات شۀ نو یابه ئے ځان تـه پـه نکاح کړه او یابه ئے بل بانډِ خرڅه کړه او یابه ئے

همداسے بندہ اُوساتلہ دھغے بہ ځان کښې هیڅ واك نهٔ وو او نهٔ بہ دھغے د مور پلار څهٔ واك وو نو الله پاك دا آیت نازل کړو چه دا غلطه او د ظلم طریقه ده او دا طریقه بعینهٖ نن صبا موجوده ده۔

دریمه مسئله (ضروریه) او ځورمه مسئله :

د جینکو ساتل دے د پاره چه څوك ډیرے پیسے ورکړی یا مالداروی نو هغهٔ ته به دا خپله لور یا خور ورکړی، دا د جاهلیت طریقه ده۔ حدیث کښې راغلی دی: «اذا خطب الیکم من ترضون دینه وخُلقه فزوجوه الاتفعلوه تکن فتنة فی الارض وفساد عریض». أخرجه الترمذی کمافی (مشکوٰة ۲ ج ۹۲۹/) واسناده حسن.

یعنی کله چه یو کس دیندار او مالدار او ایماندار وی او اخلاق ئے هم ښهٔ وی تاسو ته د نکاح پیغام وُړاندِ کړی نو تاسو ورسره خپلولی اُوکړئ او کهٔ چرته دا کار اُونکړی ٔ نو په زمکه کښې به زیات فساد او اندیخنه پیدا شی)۔ نو د رسول اللہ ﷺ امر دے په لور خور ورکولو نیك عمله سړی ته۔ لکه علماء طلباء شو یانور نیکان خلق۔ بل حدیث کښې راځی : عن عمر وانس عن رسول الله صلی الله علیه وسلم

قال فی التورٰۃ مکتوب من بلغت ابنته اُثنی عشرۃ سنة ولم یزوجها فاصابت اثماً فاثم ذٰلك علیه.

اخرجه البهیقی فی الشعب کمافی المشکوٰۃ ص (۲۷۱).

د امیر المؤمنین عمرؓ او انسؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی: په تورات کښ لیکلے شوی دی چه د چا لور دولسو کالو ته وُرسیږی او دا ئے په نکاح ورنکړی او هغه بیا گناه کښ واقع شی نو د گناه وبال ئے په پلار دے او یاد هغے په ولی باندِے دے۔

وقال البخاری ۲۹۷/۱ عن ابی هریرة عن النبی صلی الله علیه وسلم قال قال الله ثلثة اناخصمهم یوم القیامة رجل اعطی بی ثم غدر،ورجل باع حراً فاکل ثمنه ورجل استاجراجیراً فاستوفیٰ منه ولم یُعط اَجره ـ

(ابو هریره ﷺ د نبی ﷺ نه روایت نقل کړیدے چه الله تعالی فرمائی: درے کسان دی چه زهٔ د هغوی سره جگړه کونکے یم په ورځ د قیامت یو هغه سړے چه زما په نوم لوظ اُوکړی د حاکم مسلمان سره بیا لوظ مات کړی۔دویم هغه سړے چه آزاد (یعنی غلام نوی) خرڅ کړی او د هغے پیسے خوری۔ دریم هغه سړے دے چه په مزدورئ سره

یوسړے اُونیسی او بیاد هغه تنخواه پوره ورنکړی۔دے حدیث کښ "باع حراً" راغلے دے نو مطلب ئے دا دے چه زنانه خرڅول لونړه خرڅول یا هلکان تختول او بیا د هغوی خرڅول دا رنګه د لور خور په سر باندے پیسے خوړل د هغے مهرڅان له اخستل دا ټول کارونه حرام دی او څوك چه دا کار کوی نو ﷲ تعالیٰ به ورسره جګړه کوی په ورځ د آخرت او هیڅوك د ﷲ پاك جنګ ته نشی ټینګیدے۔نو مسلمانانو رونړو! خپلے خویندے لونړه په سنت طریقے سره وادهٔ کوئ په هغه طریقه کښ خوشحالی ده او په نورو رسمونو کښ خفګان او تباهی ده۔ والله ولیُّ التوفیق۔

وصلی الله تعالیٰ علی خیر خلقه محمدٍ واله وصحبه اجمعین.

تمت یوم الخمیس ۱۷ رمضان المبارك ۱٤۱۲ هجری

وسبحانك اللهم وبحمدك اشهدان لااله الاانت استغفرك واتوب الیك.

✿✿✿✿✿